اویوداسی پراخ ،ملی اوهراړخیز حرکت ته مخه پرانیزی اووسره مل شی چی دملت دازادی اوارمانونو ته داحترام او حق ورکولو له مخی دیوه حکومت اونظام په ټینګیدو منتج شی اومخکی لدی چی ناوخته شی اود داسی یوه ابتکار چانس اوبیارله لاسه ورکړی باید پدی رابطه دځپل فعال او مسؤلانه نقش لوبو فرصت له لاسه ورنکړی

دفکرلړۍ دی هر څوابوه هنګامه خوره ده
دسوال سربه انتظار دی دپښتو وطن کی

* قدرمن وروره الحاج ولی جان صافی
زموږ سلامونه اونیکی هیلی هم ومنه ، د اجتماعی آدابو د مراعات په هکله موستاسی لیکنه ترلاسه کړه . ستاسی د لازیاتو همکاریو په هیله ، بریالی اوسی .

***

* برادر ګرامی همایون ازشهرپشاور
امیدواریم سلام ها وتمنیات نیک همه کارکنان شهادت را هم بپذیرید. ازدلچسپی تان با روزنامه خودتان خرسند شدیم تلاش ماهم این است تا پیشنهادات شما را درمورد هرچه بهتر شدن روزنامه شهادت عملی کنیم ، به امیدهمکاری های دایمی وپیشنهادات سازنده شما ، موفق باشید .

***

* ګران ورور مطیع الله زاهد !
زموږ سلامونه هم ومنی . دا دی د رالیږلی خاطری یوه برخه موږمخی ته ږدو .
تیره جمعه زه اوزما یو ملګری د څه کارلپاره له ښشتر څخه پیښور ته را روان شوو . کله چی د حاجی کمپ سیمی ته را ورسیدو نوله موټرڅخه ښکته شوو . او دسړک په سر دموټر په انتظار ودریدلو . پدی وخت کی یوموټر راغی چی کلینری دحیات آباد اوجمعه بازار ناری وهلی . موږ چی دجمعه بازار نوم نوی واوریدو نو دهغی دلیدنی لپاره هلی خواته ولاړو . څوچی جمعه بازارته ورسیدو اوڅوځلی پکی تاو راتاو شوونوداریته وو په نسبت دیځو ګنه ګونه پکی زیاته وه . پداسی حال کی ‌چی‌پدی جمعه بازار کی دسبزی جاتواوهرڅه قیمت له ښارڅخه دوه چند زیات وو . ...

***

* ددعوت اوجهاد پوهنتون دشرعیاتوپوهنځی محصل ګران وروره عبدالرحمن «هست یار» زموږ متقابل سلامونه ومنه .
ستاسی احساسات دقدر وړدی ، پام وکړئ دخپل رالیږلی شعرځوبیتونوته :

هرڅومره چی وایم لاعظمت به یی پوره نشی
هسک زماملت دی اوهم هسکه یی شمله
خاوره دغیرت ده چی له ورایه معلومیږی
هم مفخره یی هره دښته اومیره

ستاسی نوروهمکاریوته سترګی په لاره یوه. بریالی اوسی .

***

* برادرعزیز و ، ا ، د ، از ارباب رود پشاور ! نامه مختصر شمارابدست آوردیم ، پیشنهاد تان رابه مسئولین شهادت سپردیم ، به امید نامه های دیګرتان موفق باشید .

***

* له افغان کالونی څخه قدرمن وروره احسان الله ! زموږ سلامونه هم ومنی . دحزب اسلامی اوشهادت په هکله ستاسی له نیکونظریاتوڅخه مننه .
ګرانه وروره ! ستاسی دګیلی په هکله باید ووایوچی لیکونه موندی رارسیدلی که نه نوحتماً به مونشرته سپارلی وو، همدارنګه ستاسی دیونیښتی په ځواب کی باید ووبل شی دشهادت ورځپاڼه دخپلولیکوالوغړو پرمضامینوبرسیره له بهرنه رالیږل شوی مطالب هم خپروی خوپدی شرط چی دشهادت له نشراتی معیاره سره سم وی . ستاسودبریالیتوبونوپه هیله .

***

* برادر عزیز نقیب الله نقیب فارغ پوهنځی سایئنس پوهنتون دعوت وجهاد طی نامه ای عنوانی اداره شهادت خبرمنتشره ،شماره (۹۸٤) مورخ ۳۰ سنبله ۱۳۷٤ درمورد اختراع یك رادیوی بدون مصرف توسط خودش را چنین تصحیح می کند:
۱ - خودم نقیب الله «نقیب» که رادیوی مذکوررا ساخته ام ازپوهنځی سایئنس فارغ شده ام نه ازپوهنځی انجنیری .
۲ - رادیوی مذکوربه شکل یك ګوشکی ساخته شده وشکل غوری رانداره .
۳ -درساختن رادیوی مذکور همراه با لودسپیکر (۲۰) کلدارمصرف ګردیده است .
اداره "شهادت" درحالیکه ازبرادرنقیب الله "نقیب" ابراز امتنان می کند که خبرمذکوررا تصحیح ګردند امیدوار است این برادر بااستعدادما روزی به دفترروزنامه شهادت تشریف بیاورند تا مصاحبه تفصیلی باایشان صورت ګیرد .

برادری به اسم فریداز پشاور طی نامهٔ عنوانی اداره شهادت چنین می نګارد:
نخست سلام واحترامات خود راخدمت کارکنان محترم روزنامه وزین شهادت تقدیم داشته از خداوند بزرګ موفقیت های مزید شانرا خواهانم.
اداره محترم روزنامه : اینجانب تقریباً ازمدت دوسال باینطرف به اثر ناآرامی وجنګ خانمانسوز ازکابل عزیز ودرمجموع ازافغانستان دوست داشتنی که کاشانه همه افغان ها میباشد قرار را بر قرار ترجیح داده راهی دیار هجرت شدم ،وهرروز وهرلحظه انتظار معجزه ایرا می کشم تامجدداً دامن آرامش درفضای کشورما ګسترده شده وبتوانیم واپس بدیار اجداد خودعودت نمایم .
من از جمله دوستداران روزنامه شهادت بوده واین علاقه ناشی ازواقعیت های میباشد.
- که کارکنان محترم روزنامه بدون اغماز وچشم پوشی به نشر آن میپردازند . روزهاییکه موعدنشر ، نامه فرامیرسد بیصبرانه لحظات را سپری می نمایم تا با مطالعه آن از واقعات کشور عزیز خود باخبر شوم وازینکه مسئولین محترم روزنامه درنظر دارند که در آینده همه روزه به انتشار روزنامه مورد نظر خواهند پرداخت علاقه مرابیشترساخته است .
کارکنان محترم روزنامه شهادت ! متهم منحیث یك افغان وطندوست حق خودمیدانم تا به اصول حقوقیکه خدا (ج) برای بندګان خود درهمه ساحات زندګی خصوصاً حق آزادی بودیعه ګذشته است آزادانه با شما صحبت کنم.
اینك میخواهم مضمون زیر را که یکی ازواقعیت های دوره زندګانی مردم ما درطول جهاد بوده است وازشعر سعدی (رح) الهام ګرفته شده است"در روزنامه شهادت به نشر رسانید و در آینده نیز همکاری های خود را ادامه خواهیم داد؛ واین هم قسمتی ازمطلب ارسالی این برادرتحت عنوان ګرګ بزرګ نما:-
کودتای هفت ثور ۵۷ وبخصوص (٦) جدی سال ۱۳۵۸ که قشون سرخ اتحاد شوروی سابق عملاً جهت اشغال وطن عزیزما درسرتاسر کشور پیاده شد یکی ازواقعات مهم کشورما بحساب میآید ، این کودتا به مثابه ګرګی بود که ملت افغان رابه پنجال ودندان خود ګرفته وبتدریج خون آن ها رامی مکید وملت جز تضرع وزاری بدرګاه خداوند (ج) چاره دیګری نداشت وهر روزیکه ازتاریخ میګذشت ملت بیشتر درکام ګرګ فرومیرفت تا اینکه فرزندان راستین ملت دست بکار شده برعلیه رژیم کمونیستی جهاد کفر شکن را اعلان نمودند تا اینکه به اثر مردانګی دشهامت ومجاهدت فرزندان راستین ملت وباقربانی بیشتر ازیکنیم ملیون شهید وصدها هزار معلول توانستند بیاری خداوند (ج) ملت را ازدست وچنګال ګرګ های دوران نجات بخشد که در نتیجه رژیم کمونیستی یکجا با اتحاد شوروی سابق به زباله دان تاریخ سپرده شد وشهامت مجاهدین افتخارات زیادی را برای افغان ها به ارمغان آورد . اما افسوس که یکتعداد از مجاهدین دروغین با ائتلاف بیشرمانه شان باکمونیست های شکست خورده زمام امور دولت رابدست ګرفتند آرزوی ملت رابرباد داده وبا بوجود آوردن (دولت با صطلاح اسلامی کابل) لکه ننګین دیګری رابه تاریخ افغانستان عزیزدرج کردند وخود ګرګ هایی بودند که کارد را مجدداً برګلوی ملت قرار دادند .
ملت افغان امید وار است تامجاهدین راستین وسربکف با ادامه جهادشان ملت را از ین نیستی وبربادی نجات بخشند ، واین روزان شا الله آمدنی است .
ومن الله توفیق .
فرید ازپشاور .

###

دشهادت ورځپاڼی یومینه وال شاغلی اتل افغان دیوه لیك په ترځ کی دشهادت ورځپاڼی او پیام آزادی راډیو دنشراتو دښه والی لپاره جالب پیشنهادونه لری . دغه ورورداسی لیکی
دشهادت ورځپاڼی محترمو کارکوونکیو ؛
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :
هیله من یم چی په خپلو فرهنګی دندوکی بریالی اوسی . پدی هیله خپل دوهم لیك تاسو ته دراستوم . ددی زیری په اوریدلو سره چی ان شا الله تعالی دشهادت ورځپاڼه به پس له دی هره ورځ په پرله پسی توګه خپره شی .ډیر خوشحاله شوم . او واقعاً چی دډیری خوشحالی اونیکمرغی ځای دی . چی یوه جهادی ورځپاڼه هره ورځ خپره شی .
مجاهدووروڼو !
نن سبا اسلامی امت چی په کوم بدحال کی راګیر دی ،دادویری خواشینی ځای دی. دا هغه ویارلی امت دی چی یو وخت یی دنیا رهبری کوله . او ولی به یی هم نه کوله . څکه چی مسلمان څو پیداشوی هم دخدای دخلیفه او نائب په توګه اوبیا دمحمد (ص) امت ته خو هغه مقام حاصل شوی چی خدای (ج) ورته بهترین امت ویلی څکه چی ددنیا انسانان دنیکی لوری ته رابلی او له بدی نه یی منع کوی . خوډیر دافسوس ځای دی چی موږ مسلمانانو داسپیڅلی دنده پریښی ده او ددی ستری دندی دپریښودوسره جوخت دنړی درهبری مقام مو هم له لاس نه وو ت . داسترمقام نن سبا دکفارو په نصیب شوی.
پدی پرمختللی وخت کی خپل مرام ، هدف ، اومقصد نوروته درسولولپاره دوه مهمی ذریعی موجودی دی چی یوه راډیو تلویزیون اوبله ورځپاڼه ده .
مجاهدو وروڼو :
زه په دی ولی نه چردی اود اوښکو په ځای په وینی ولی نه توییوم .
چی یومسلمان دنړی دحالاتو نه دخبریدولپاره نورو راډیوګانو ته غوږنیسی ، اوهغه چی څه وایی دی یی منی . که هغه دبی . بی . سی راډیو وی یا دامریکا غږ پالنان غږاوبانوری راډیو ګانی .اخر ولی او دڅه دپاره موږ مسلمانان دومره خوار اوذلیل شوی یو چی یوه داسی راډیو نه لرو چی مسلمانان دنړی له تازه اونوییو حالاتو نه خبر کړی . پداسی حال کی چی مسلمانان دمادی اومعنوی پانګوخاوندان دی . زماهیله دشهادت ورځپاڼی اودپیام آزادی راډیو تلویزیون نه داده چی خپلی اصلی اسلامی دندی ته له پخوا نه لازیات متوجه اوسی . اوستاسی داخبره چی دشهادت جریده به ان شاالله تعالی ډیرزر په ورځپاڼه بدله شی ، دډیری خوشحالی ځای دی خوباید لاندینی ټوټکی په نظر کی ونیول شی:
۱ - په هریومهاجرکمپ اویه هغه ځایونو کی چی دافغانانو هیواد ته تګ اوراتګ وی (لکه نوی اډه ، دګرهاټ روډ سره دلاینك کرچ اوه) دشهادت غابندګی پرانستل شی :
۲ - داچی ورځپاڼه باید په خپل وخت چاپ شی اوکوښښ وشی چی هره ورځ سهار وختی بازارته راورسی .
۳ - دنویوخبرونو دراټولولو اویه نورو ذریعو بالخبارونو باندی داتکا په ځای باید دشهادت ورځپاڼی اداره داسی دخبریالانو یو ټولګی ولری چی دهیواد له دننه اوده‌جرت له محیط نه هره ورځ تازه خبرونه اودهغوی عسکرونو سره یو ځای راټول او خپاره کړی .
٤ - دشهادت ورځپاڼه کی باید په هره موضوع تازه مضامین چاپ شی .
٥ - که ممکن وی دشهادت ورځپاڼه باید له څلورمخیزی نه ، شپږمخیزه یا اته مخیزه شی . بی له دی چی په بیه کی یی کوم بدلون رامنځ ته شی .څکه زموږ دمجاهدوهیواد والو اقتصاد فعلاً دانقاضا نه کوی.
٦ - دشهادت ورځپاڼی دتاسیس ورځ په ګونه او پدی ورځ یوه خاصه ګڼه خپره شی ، همدارنګه دګران هیواد افغانستان دمهمو پیښو په اړوند هم خاصی ګڼی خپری شی .
۷ - دشهادت ورځپاڼی په دوهم مخ کی دصاحب امتیاز دموسس اوناشر تر څنګ باید دشهادت دمدیر مسئول نوم هم ولیکل شی .اوله ټولونه مهمه خبره داچی که خدای (ج) کول نو دا ورځپاڼه باید دیوی بین اللللی ورځپاڼی شکل اختیارکړی . ترڅو دټول اسلامی امت ترجمانی د نړی په سطحه وکړی ، او په نتیجه کی یی دیو جهان شموله اسلامی خلافت درامنځ ته کیدو لپاره لاراواره کړی .
له دی موقع نه په استفادی سره دشهادت ورځپاڼی له لاری دپیام آزادی راډیو تلویزیون محترم ریاست ته هم داعرض کوم چی دوی له دی راډیو تلویزیون نه دنړی په سطح دیوه نمونه اسلامی راډیو تلویزیون په جوړولو کی لازیات کوښش وکړی.
په ګران هیوادافغانستان او په ټوله نړی کی دیواسلامی خلافت دجوړیدو په هیله .
والسلام .
دشهادت مینه وال (اتل افغان)

###

دشهادت ورځپاڼی دایمی لوستونکیه ګران وروره عبدالوحید "منصور" !
زموږ سلامونه هم ومنی . د شهادت په هکله ستاسی احساس قدروړدی. دلیکونو په هکله مو باید ووایو چی که موږته رارسیدلی وای ، حتماً به مو نشرکړی وای . هیله ده خپلی قلمی همکاری ته له موږ سره دوام ورکړی . خوشحاله اوبریالی اوسی.
ګرانو وروڼو هریوه ددعوت او جهاد پوهنتون دطب پوهنځی محصل عبدالرحمن "خنجر" اوفضل قادرانډیوال دخپلو جلاجلا لیکونو په ترڅ کی دشهادت له خوا دهیواد دکړکیچ دحل په رابطه دنظر غوښتنی په هکله یو لړ مطالب لیکلی ،خودغو وروڼو ته باید ووایو چی متاسفانه ستاسی لیکونه لدی موضوع نه ډیر وروسته موږ ته راورسیدل. څکه نودغفی له خپریدو څخه معذرت غواړو . ستاسی دنورو همکاریو په هیله . خوشحاله اوسی .

###

دشهادت جریدی قدرمنو کارکوونکو،
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ،
دخپل وطن اووطنوالو په خدمت کی دشهادت نه ستړی کیدونکی هلی ځلی دلر په څیر روښانه دی . په همدی خاطر یواځینی جریده ده چی په افغانستان کی ترټولو جریدو ډیرلوستونکی لری . اوزه هم دنوموړی جریدی یو ډیر پخوانی لوستونکی یم . دشهادت سره زما یی ګڼه مینه تاسی له دی څخه معلومولی شی چی زه دهری یکشنبی ، سه شنبی او پنجشنبی په ورځ دشهادت دترلاسه کولو تروخت داسی یم لکه څه شی می چی ورك کړی وی . ولی کله چی جریده لاس ته راوړم‌نوخفه کیږم ! تعجب مه کوی ! زه ددی لپاره خفه کیږم چی کله داخبار په لوستلو شروع وکړم ،نودډیر جالب والی په خاطر یی دومره ژر ټول خپرونه اومضامین ولولم چی په ځان پوه شوی هم نه یم . بیا یی تکراری لولم . نوخفه ددی لپاره یم چی بیا دبلی شماری لپاره انتظار باسم . په هر صورت ، خدای دی تاسی پدغه مقدسه اسلامی اوملی وظیفه کی لابریالی لری.
بله خبره داچی ددی لیك سره می خپل یوشعر هم دراولیږلی چی که مولازمه وګڼله او راته نشر موکړ ، نو لا به خوشحاله شم او حوصله افزایی به می وشی.
په درنښت .
ستاسی وروړ ع - سالك

###

خواږه ترخه

عصریت!

ذبیح الله «شرر»

داد۱۳٦٤هـ ش کال خبره ده، موږ دوه کسانوسره بخت یاري وکړه ،له معجزې نه کمه اوله کرامت نه پورته خبره وه چي بي واسطې اوبي وسیلې مودتحصیلي بورس پچه راوخته اود«سیدجمال الدین» اود«مجاهد» لیسونه یو،یوکس دکویټ پوهنتون ته ولیږل شوو . هلته دمحیط دبدلون په نتیجه کي خامخا څه مشکلاتو سره مخ وو، یوله هغو داوچي دوینشتانواصلاح به چیرته اوپه چاکوڅکه چي دهغه ځاي دو«سلمانیانو» یاو«دلاکانو» دلوړقیمت انګازه مي له پخواغوږوته رارسیدلي وه . ماله ځان سره فیصله وکړه چي چیرته په کوم افغاني یاپاکستاني دلاك پیداکوم حتي که دیورد اوناصرباغ په شان دسړك په غاړه ئي دیارهم لګولي وي. په مودونوپسي زه نه ګرځیدم اوپیسي هغوي لږي غوښتلي نوموجوره راتلله . زه په خپله مدعاکي بریالي شوم اودیوکویتي دینار (نن سبا ۱۲۰ کلدارو) په بدل کي راله پاکستاني وروڼوبه «وطنکي» وبینته جوړکړل . خوله ماسره تللي انډیوال په یوعصري صالون وربیتې شوي و. چوکي ته له ځنلووروسته ئي تري پوښتنه کړې وه چي کوم مودوبینته درله جوړکړم، هغه چي په عربي هم لانه نه پوهیدلو اودوبینتانومختلف ماډلونه اوعکسونتي په ګردچاپیرشیشو کي لیدل توله دیري وارخطائي ئي په ایتالوي مود ګرته ابنودي وه ! داانډیوال په همدي صالون کي دسلماني په چوکي ناست پریږدم څکه چي دیوبل سري خبره راپاده شوه اوهغه داچي تومورې خارج ته تللي و ددوږي په وخت کي رستورانت ته ننوت ، خواوشاني وکتل چاچرګان خوړل او چاپلاوونه ، دده هم ورته زړه کیده خوځرنګه چي په ژبه نه پوهیده او درستورانت خدمتګارهم ورته دخوراکونو له لست سره تیارشي ولاړونو له ناچاري ئي په یونیم ګوته کیښوده . خدمتګار ولاړاوچي بیرته راتلونو دتیبرویبوك پشقاب ئي هم له ځان نه مخکي کړي و، مسافر ...ره بي خوندي تیبروته کتل اوحیران وچي داشلغم څنګه له ده نه مخکي دي ملك ته رارسیدلي دي. په دي کي دهغه ترڅنګ ناست مسافرخپل چرګه خلاص کر اودرستورانت خدمتګارته ئي غږکړچي Againئیائي راوړه . زموږوطنداروپرخبرشو چي که خبروي دچرګ نوم مي یادکړ نوده هم غږکړچي Again خدمتګارپه منده ده له بیادتیبرو ولك پشقاب راوړ اوهغه بل له ئي سورکړي چرګ. ددي حال په لیدلو وطنداړله ځان سره وغړمبیده چي کورئي وران کړي په یو Again بل له چرګ راوړي اوماله تیبرا! خبرداځویوه جمله معترضه وه اوهغه هم په بهرنیوهیوادونو کي دژبي دمشکل په هکله .

اوس بیرته راځودسلماني دوکان له چي زمادپوهنتون انډیوال له ئي بڼه فیشنکي وبینته جوړکړي ، تقریباً دري دنباره ئي تري اخستي اودغه دي چي ځوان لیلیي ته راغي ،په لیدلوئي بي اختیاره زماله خولي یوه ناره پورته شوه چي :«واي ! داوي څه کړي»! هغه لږموسکي اوبیاکه پیکه غوندي شو چي ولي څه چل شوي ! ماویل تاخپل ځان په آئینه کي کتلي ؟ داوبینته ئي درله څنګه جوړکړي، داسي ځوځمونږپه کونړ کي ګوجران خپو ورو نجونوله سرونه جوړوي ویل نواوس چاره څه ده ؟ ماویل راځه اویه پاکستاني وروڼومي وسپاره .

دادسفرنامې یوه برخه مي هسي دعصري ژوند دمشکلاتواوکړکیچونو دښه وضاحت لپاره رانقل کړه چي دمود، فیشن اوسیالي په نوم دسړي جیب تش شي خوهیڅ په لاس ورنشي. تل به لالهانده ئي چي په بازارکي به بل کوم نوي مود راوتي وي چي ته ئي خپل کړي اوپه سیالانو کي شمارشي . که بدا ي ، امیر اوبي دیته قومونه دمود اوفیشن په نوم په میلیونونو ډالره مصرفوي نویوه خبره ، خوداکاربیا زموږدملت په شان غریب قوم سره هیڅ نه ښائي څه وشول که یوځوکسانو په غلاګانو ، رشوتونو ،قاچاقونو اودپردیو دغلامي په بدل کي یوځوټنګي پیداکړي خوپه مجموع کي زموږ ملت ددنیا دډیرو فقیرو ملتونوپه ډله کي شمیرل کیږي چي دژوندله اساسي ضرورتونوهم محروم دي، په نوره نړي کي خلك لګیادي دسرطان علاج کوي، زموږ په ملك کي لګیادي ملاریاله وجي مري . خوچي بیا هم دځینو په تن رنګارنګ مودونه ووینې نودشاعرداخبره خامخا دریه یادیږي چي :

هزاران مرده جهان در تن ماست
آرد درخانه نداریم این فیشن ماست

څه موده رواندي مي په سینه شګه کي یوساغلي ولید دلستونو په لږ سراوبرسرکي ئي دومره چینونه اوګونجي کري وي چي که مبالغه نه وي نو دیویتیم ماشوم دیوجوړه کالواضافي ټوټه ئي پکي مصرف کړي وه . په زړه کي مي ویل چي نه اوس دمجاهدینودي سنګرته وګوره اوستادي فیشن ته !!

دعصري اومودکي ژوند یو اموخت دي چي څوك پري اخته شول بیا تري په ژوند نشي خلاصیدلاي ، که امکانات وو که نه وو څوعصریت به مخامخا پالي اوکله ناکله بیا دغه عصریت پالنه خلك داخلاقي فساد (فحشاء) اداري فساد (رشوت، واسطه) اواجتماعي فساد (قتل ، غلا، داکه ...) ګندوته هم غورځوي . دمثال په ډول که یوبي وسه افغان دنبار په عصري ځایونوکي ونه اوسیږي ، دګیس، تیلفون ، ایرکندیشن، تلویزیون اووي سي آرپلوته وړنکړي اویه یوساده ژوند قناعت وکړي نوبیا به ولي په حراموته کیږي؟

په ساده ژوندکي یوکیف دي، یوسروردي، یوډول آزادي ده اوحتي خداي (ج) ته پکي دتقرب اوتژدي والي ډیراحتمال شته ، چي دخداي (ج) دمقربو بنده ګانوهمدا دود ؤاودي، دخداي (ج) نازولي استازي صلي الله علیه وسلم ډیر ساده ژوند درلود، دځرما پانوپه کوډلوکي به هغه مبارکه اوعظیمه هستي (فداه روحي) اوسیدله چي خداي (ج) ئي پخپله دشان دلوړوالي اعلان کړي « ورفعنالك ذکرك» اودهغه عمر (رض) په جامو کي به پیوندونه لګیدلي ووچي رسول اکرم صلي الله علیه وسلم ئي په هکله فرمایلي « لوکان بعدي نبیاً لکان عمر» که له ماوروسته بل پیغمبروای نوعمربه و .

څکه څوعمر دهغه نظام په جوړولو بریالي شو چي اوس خلکوته دحقیقت اویوتاریخي واقعیت په توګه نه بلکي افسانه برېښي ، اوداڼن سیاجي څوك داسلامي نظام دجوړیدویاجوړولودعوه کوي نوبه داوي چي هغوي ځان ته دعمر(رض) په آئینه کي وګوري .

دعصریت پالني یوبل مصیبت دادي چي پري اخته شوي نوبیا به ئي غوښتني دحماقت ترسرحده پوره کړي، مثلاً نه به پوهیږي چي یوګرتوته دښارپه عادي دوکانونوکي په ۲۰ کلداري ده ، خو هغه جنس به دصدر په بازارکي فقط ددي په خاطرپه ٤۰ کلداري اخلي چي صدردعصري خلکوبازار دي ! دتیټ نرخ اجناس به درته سپك ښکاري اومعیاریه ئي درته دنرخ په جګوالي باټیتوالي پوري تړلي برېښي . دعینك څرخولو دیودوکاندارخبره ده چي زه مجبوریم دپوهنتون محصلانوته دعینکونرخ دري چنده اوڅلورچنده ووایم که اصلي نرخ ورته وایم نوورته بدي اوبي ارزښته ښکاري اونه ئي اخلي، هغوي په دي فخرکوي چي خپلوهمزولوته ددوه سوه روپیو عینکي وښئي او ووائي چي په اته سوه مي په صدرکي اخستي دي !

په عصریت پالنه کي دذهني غلامي یومهم عنصر هم شامل دي، عصري خلکوته دخپل ملك مصنوعات تل بي ارزښته اوبي خونده ښکاري اوهمداڅه کوي چي خارجي شیان واخلي څکه خوئي دائما مخه باري اوکارخانو ته وي څوخبر دي وي محلي صنعت کارانو اومحلي دوکاندارانو ته چي دامریکاجوړ، فرانسي جوړ، انګلستان جوړاو ... تاپي په خپلومصنوعاتووهي اودغو خارجي مارکیټونوته ئي

(٤)مخ

درجهان شهادت است که سلسلهٔ حیات ...
شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۹۹۶) سال هژدهم یکشنبه (۱٦) میزان ۱۳۷٤

الهی فرمان

اې هغوکسانوچې ایمان یې راوړی دی ، ټوکې اوسپکاوی دې نه کوي هیڅ یوقوم له تاسې څخه په بل قوم باندې ځکه شایې چې وې به دغه (مسخره کړي شوي) بهتراوغوره له دې (مسخره کو نکیو) څخه اونه دې یوټولی ښځې له تاسې په نوروښځوکوې ځکه شایې چې هغه به بهتره اوغوره وې له دې مسخره کوونکیو څخه اومه عیب جوړې کوې یوبعضی دتاسې دبعضی نورو ، ځکه چې بیادتاسوعیب جوړې هم کیږي، اومه غواړي تاسې یوتربله په بدو نومونو اوالقابوسره ، بد دادی نومونه د(مسخرې، تلمز، تنابز) له جهته دفاسقی وروسته له ایمان درلودلوڅخه اوهغه چې توبه یې ونه ایستله نودغه کسان همدوی دي ظالمان . (الحجرات - ۱۱)

نبوي ارشاد

له حضرت ابوهریرة (رض) نه روایت دی چې حضور(ص) فرمایلي: که ځما په امت ګرانیدي نه ،وبایې فرمایلي دي که په خلکوګرانیدي نه، نومابه ورته دهرلمانځه سره دمسواك حکم ورکړي و. (بخاري - مسلم)

احکام دین خودرا بیاموزیم

مسایل مربوط به آب

٦- چیزهاي مایع ورقیقی که به عرف عام آنرا آب نمي گویند وضووغسل باآن درست نیست مثل شیرهٔ نیشکر، شیرهٔ گلاب سرکه وغیره ... به همین ترتیب باعرق گل هاوآب میوه جات هم وضووغسل درست نیست مثل عرق لیمو، سنتره وآب تربوز، ناریالي وغیره .

۷- اگردرآب چیزي انداخته شده وپخته کرده شود ودراثر آن آب مکدر گردد ، هرچند به عرف عام آنرا آب هم بگویند، وضووغسل باآن درست نیست .

ددعوت اوجهاد دمحصلینو هینت:

ددعوت اوجهاد پوهنتون پیل کیدل ، نه یوازي مهاجرینو بلکه دپاکستانیانو په ګټه هم دي

داتکي ددعوت اوجهاد پوهنتون د محصلینو دعالي شورا هیئات په پېښور کې دپاکستان حکومت له صوبه يي وزير اودواکمن ګوندغړي سید قمرعباس سره ترلیدو وروسته ،دشهادت خبریال سره دیوې مرکې په ترځ کې څرګندکړ .

دغه هیئات چې دطب پوهنځي محصل محمدزمان توحیدیار ، یارمحمد ممونزي، اوپوشمیر نورمحصلین پکې شامل وو، ددې پوښتنې په ځواب کې چې دوې له کومه وخته خپل فعالیتونه شروع کړي اوتراوسه يې څه نتیجې ترلاسه کړي وویل : تقریباً دوه میاشتې وړاندې کله چې موږ پدې متیقن شوو چې دپوهنتون تعلیمي کال نه پیل کیږي، موږ خپلې هلې ځلې پیل کړې اواوس دمحصلینو دغه شورا دپوهنتون دریاست له خوا په رسمیت پیژندل شوې دهغې هلې ځلې اوملاقاتونه رسمي بڼه لري .

دمحصلینو دشورا دغه هیئات دپوهنتون دپندیدو دعواملو په باب زموږ دپوښتنې په ځواب کې وویل :

« دپاکستان حکومت تراوسه ددې پوهنتون دپندیدو علت ندې په ډاګه کړې، په سرحدي ایالت کې دافغاني مهاجرینو لوی کمشنر اوداسې نورلوړرتبه مسئولین ټول ددې پوهنتون په ترل کیدو تأسف څرګندوي خوعلت یې بیا نه هم ندي څرګند، دسرحد ایالتي مقامات وایي چې دادمرکزي حکومت دصلاحیت خبره ده اودکورنیو چارو وزارت لـه خوا شوي، ترکومه چې په سرحدي حکومت پورې اړه لري له موږسره يې دهرراز همکاري ژمنه کړې اودپوهنتون له شروع کیدو سره يې خپله دلچسپي ښودلې . او دوی دا دافغانانو ثابت حق ګڼي .»

دمحصلینو شورا لـه هیئات څخه موپوښتنه وکړه چې تر اوسه دوي په افغانستان اوپاکستان کې دپوهنتون دکارپه رابطه لـه چاچاسره کتلي اوددي ملاقاتونو څخه څه نتایج لاس ته راغلي ، هغوي ځواب راکړ :« موږ په افغانستان کې دحزب اسلامي الد ُنستان له امیر حکمتیارصاحب سره ، دطالبانو دغورځنګ دعالي شورا له غړي مولوي احسان الله

همدارنګه دپاکستان دجمعیت العلماي اسلام له مشر مولانا فضل الرحمن ، دپاکستان دعوامي نیشنل ګوند له عمومي منشي فرید طوفان، دصوبه سرحد دحکومت وزیر اوډپیلپزګوند غړي سید قمرعباس سره کتلي دي، له هغوي سره موډپوهنتون دترل کیدو په هکله مفصلي خبرې کړې، دجریان موهغوي ته ویلي دي، همدارنګه موږ په پېښور کې دملګروملتوسازمان دفترته یوددرخواست ورکړې په هغې کې موداجریان ورته ویلي دي .

ددې لیدنوکتنوڅخه دترلاسه شویو نتایجو په هکله دمحصلینوهیئات وایي :« حکمتیارصاحب ، د حزب اسلامي سیاسي ریاست ته هدایت وکړ، ترڅوله پاکستاني مقاماتو سره داموضوع مطرح کړي، خوتراوسه عملاً هیڅ نتیجه نده ترلاسه شوې، همدارنګه مولانا فضل الرحمن موږ ته وعده راکړې چې دپوهنتون موضوع به دپاکستان په ملي اسامبله کې مطرح کوي، قمرعباس هم دمرکزي حکومت په مقاماتو یو سفارشي لیك راکړي ، اودهمکاري وعده يې کړې ده ، خود پوهنتون دپرانیستل کیدو په هکله تراوسه قاطع خبره هیڅاهم نده راسره کړې، »

دمحصلینو هیئات ددې پوښتنې په ځواب کې چې دکابل اداري اوپه ټیره بیا داتحاد تنظیم دپوهنتون دبیاپرانیستل کیدو لپاره څه ګامونه اوچت کړي وویل : څه موده مخکې داستاذانو دعالي شورا پوهیئات کابل ته تللي وو، دغه هیئات له استاذسیاف سره وکتل اوهغه يې دې ته راضي کړ چې دځه مودې لپاره دې پوهنتون بیرته په پېښورکې فعال شي کله چې دوي پدې متفق شول نوبیا یې فیصله وکړه چې دعالي شورا غړي اواستاذ سیاف به په ګډه استاذ رباني ته ورځي اواستاذرباني به دپاکستان له جمهوررئیس فاروق احمد خان لغاري څخه رسمي غوښتنه کوي چې دې پوهنتون ته په پاکستان کې دپاتې کیدواجازه ورکړي ، اما وروسته بیاحالاتو تغیر وموند او دسفارت واقعه رامېنځ ته شوه ځکه نواستاذ رباني له پاکستاني مقاماتو څخه دپوهنتون دپاتې کیدوغوښتنه ونکړه .»

دمحصلینوله هیئات ته مو وپوښتل چې دپوهنتون په رابطه دراتلونکي لپاره څه کول غواړي، هغوي وویل : « موږدخپل توان ترحده خپلوهلوځلوته پدې رابطـه دوام ورکړو، په نژدې راتلونکې کې غواړو په اسلام آباد کې دپاکستان له جمهوررئیس ښاغلي فاروق احمدلغاري ، صدراعظمې میرمن بې نظیربوټو ،اودکورنیو چارو وزیر ښاغلي نصیرالله بابر سره وګورو، اوهغوي ته قناعت ورکړو چې پاکستان ددعوت اوجهاد پوهنتون پیل کیدل ،نـه یوازي دافغانانو بلکه دپاکستانیانو په ګټه هم دي .

دمحصلینودغه هیئات وویل : ددعوت اوجهاد په پوهنتون کې ۲۳۸۵ تنه محصلین زده کړه کوي چې له هغې څخه ۱۰۰ تنه پاکستاني وروڼه هم دي،

دمسعود له خوا جوړی شوی غونډی ته دقومی مشرووینا :

موږپه افغانستان کی قومی ، ژبنی اوسیمه ایزحکومت نه غواړو

کابل - دتلې ۱۵ :

دتیري چهارشنبي په ورځ دنظارشورا دمشرمسعود پـه غوښتنه دپنجشیر ولسوالي په مربوطاتوکې یوه لویه غونډه وشوه پـه غونډه کې دمسعود ځینو قوماندانانو وینااوي وکړي .

نظارشورا ته نژدې یوې باوري منبع شهادت تـه وویل کوم کسانوته چې مسعود دستور ورکړي وچې غونډې ته وینااوي وکړي هغه کسان اصلاً هیڅ غونډې ته حاضرشول .

منبع وویل کله چې دغونډې نطاق ،غونډي دوینااوالو نومونه اعلان کړل نوبیو ویناوال هم حاضرنه شو اووروسته چې دمسعود نژدې کسانوداحال ولیدنوژرترژره ئې نطاق ته دیولیك په وسیله ځانونه معرفي کړل اوترمعرفي کېدو وروسته نطاق دمولوي لیث الدین اوولي ګل نومونه یوپربل پسې واخستل او هغوي هم یو په بل پسې وینااوي وکړي ،اوپرځوال ئې دخپلومخالفینودمقابلي له پاره راوبلل منبع وویل دویناوالو له ویناو وروسته یوه قومي مشر چې خپل ځان ئې معرفي نکړدټولو برخوالو په نمایندګي ویناوکړه ئې وویل : موږ دتل لپاره یوه سوچه اسلامي حکومت دجوړیدو لاره کي قربانۍ ورکړي او دهمدغه حکومت غوښتونکي یو.

ده وویل هرځوك دهرژبي اوهرقوم چې دیوه سوچه اسلامي حکومت دجوړولو په لاره کې زموږمرسته کوي موږ دهغې ملګري یو. مشروویل موږپه افغانستان کې قومي ، ژبني اوسیمه ایز حکومت نه غواړو .

منبع وویل چې ددې قومي مشرتر وینااوروسته غونډه غالمغالي شوه اوبالاخره هرچادخپل کورلاره ونیوه.

دخاځی اریوب ولسوالی یو شمیر قوماندانانو له وروږحکمتیارسره وکتل

پکتیا- دتلې ۱۵مه :

په ځاځي آریوب ولسوالۍ کې دحزب اسلامي یوشمیر قوماندانانو دالفتح په غندکې دوروور حکمتیارسره وکتل اودهیواد اوخپلې سیمې دروانې وضعې په باب ئې وروسره فقصیلي خبرې وکړي.

دحزب اسلامي سکرتریت شهادت ته وویل ددې قوماندانانو په ترکیب کې چې قوماندان سیدکمال ، حاجي عبدالجبار،قوماندان مولوي حنیف ، قوماندان محمدنواب، اوقوماندان درمحمدشامل وو دخپلو خبروپه ترځ کې ئې له وروورحکمتیارسره ژمنه وکړه چې دسوچه اسلامي منتخب حکومت ترجوړیدو پورې به په خپله هرارخیزه مبارزه ټینګارکوو .

وروور « حکمتیار » دنوموړیو قوماندانانوداحساساتوستاینه وکړه اوهغوي ئې داسلام اوملت په وړاندې خپلو مسئولیتونوته متوجه کړل .

ملګروملتونو په کابل کی دهندی پیلوټانو اوتخنیکرانو خبره تائیدکړه

کابل دتلې (۱۵) مه .

دملګروملتونو یوې باوري منبع ویلي چې اوس هند خپل پیلوټان اوتخنیکران کابل ته رالیږلي اودکابل اداري سره يې دنوموړي اداري دمخالفینو په ځپلوکې پوره ونډه اخستې ده .

منبع ویلي چې همدا اوس هم په جبل سراج کې ګڼ شمیر هندي انجینران اوتخنیکران کارکوي اوهم يې پیلوټان په نظامي عملیاتو بوخت دي منبع دهندي پیلوټانو اوتخنیکرانو دپوره شمیر په باب څه ندي ویلي .

توسط وزارت دفاع اداره کابل :

ادارهٔ کابل دستور گرفتاری مجاهدین عرب مقیم کابل راصادرنمود

کابل - ۱۵ میزان :

ادارهٔ کابل دستورداده است تاآنعده مجاهدین عرب مقیم کابل راکه در دوران جهاد بامجاهدین همکاري داشتند دستگیر وزنداني سازند .

به اساس اطلاعات منتشرهٔ مطبوعات پاکستان ادارهٔ کابل تا کنون ده تن مجاهدین الجیریایی رادستگیرنموده بی ازسوداني هارا نیز به اتهام دادن تربیه نظامي بازداشت نموده اند .

داکترعبدالله سخنگوي وزارت دفاع ادارهٔ کابل درتوجیه این اقدام ادارهٔ کابل گفته است : این افراد در سازشي علیه حکومت ملوث بوده اند . اما مبصرین آزاد ومردم کابل این عمل ادارهٔ کابل را جزخوش خدمتي به هند چیزدیگري فکرنمیکنند.

دنظارشوری امنیتی کسانو په چاریکاروکی په پراخه پیمانه لوټماری وکړه

چاریکار دتلې (۱۷) مه

سره له دې چې دنظار شورا مشر مسعود په چاریکاروکې امنیتي تدابیروپر ټینګ کړي خو بیاهم پدې ښارکې په پراخه پیمانه لوټماري روانه ده .

له چاریکاروڅخه یومسافر چې پرون پېښور ته راورسید دشهادت خبریال ته یې په چاریکاروکې دخپلو سترګو لیدلي حال داسې څرګند کړ:

په چاریکاروکې داسې ورځ راغلې چې بلا ناغه هره شپه دنظارشورا پلویان دشپې په (۱۲) بجو په سماواروتو کې تالاشي پیل کوي اوډتالاشیو په نامه دخلکو ټول جیبونه لوټ او تر لوټ ماري وروسته بیرته تیښتي . انجنیر محمد طاهروویل چې دوې ورځې وړاندې زه دخپل یوملګري سره دچاریکارو بازارته لاړم بدبختانه چې شپه راغله او زه اوزما ملګري دواړه په بازارکې پاتې شوو اوبالاخره مویه یوه سماوارکې کوټه ونیوله خوکله چې دشپې (۱۲) بجې شوي نو په سماوارکې های هوي پورته اوبالاخره زموږ دکوټې دروازه هم راوټکول شوه او په دروازه کې ولاړ کس وویل که دروازه خلاصه نکړې نو بیا به مرمې قبولي کړې.

انجنیر محمد طاهر وویل چې موږ دځان دمرګ له ویرې ژر دروازه خلاصه کړه او لوټمارانو غړ وکړ چې شور ونکړې هماغه و چې زموږ جیبونه يې تلاشي او زما اوزما له ملګري څخه یې (۳) لکه افغاني په غلا یووړې او بیرته په تیاره کې وتښتیدل

خبرتیا

دجمعیة قطرالخیریة مربوط ټولو هغو یتیمانوته چې کفالتونه ئې وارسیدلي دي خبروکول کیږي چې توزیع په لاندې ډول شروع کیږي:

۱- هغه یتیمان چې په افغانستان کې اوسیږي دهغوي دکفالتونو توزیع به داکتوبر دمیاشتې په (۲۱)تاریخ دشنبې په ورځ شروع اودنومبر دمیاشتې تر(۱۳) تاریخ ددوشنبې تروڅې پورې دجلال آباد په دفترکې دوام لري .

۲- هغه افغاني یتیمان چې په پاکستان کې اوسیږي، دهغوي دکفالتونو توزیع به دنومبر دمیاشتې په (۱۸) تاریخ دشنبې په ورځ شروع اودنومبر دمیاشتې تر(۳۰) تاریخ دپنج شنبې تروڅې پورې دپېښوریه دفترکې دوام لري .

هیله مندیوچې دپورتني پروګرام سره سم دجمعیة قطردفترونوته مراجعه وکړي .

دجلال آباد ددفترآدرس :ګودام سنګي - جلال آباد- دجمعیة قطر الخیریة دفتر

دپېښورددفترآدرس:ضیاء الاسلام مدرسه - شیرداد ګړهي- وږسك روډ پشاور

مستیری نماینده سازمان ملل پس ازسفربه مزارشریف،به کابل برگشت

مزارشریف - ۱۵ میزان :

یك منبع خبري گزارش دادکه محمودمستیري نمایندهٔ خاص سازمان ملل به تعقیب تلاش هاي قبلي اش قبل ازظهر دیروز غرض مذاکره بارهبر جنبش وارد شهرمزارشریف شد.

هدف عمدهٔ مستیري ازاین سفربه مزارومذاکره باجنرال دوستم جلب موافقت رهبرجنبش درجهت ایجاد یك آتش بس ده پانزده روزمیباشد که جنرال دوستم بااین پیشنهاد مستیري موافقه نشان داده مشروط براینکه مسئله انتقال قدرت درقدم اول درنظرگرفته شود .

گزارش میافزاید که مستیري پس ازملاقات باجنرال دوستم روزمره به کابل برگشت تاباسران ادارهٔ کابل مذاکرات مزیدي انجام دهد .

مسعود وربانی بعد

مسایل دشوار دیگري را دامن زدند .

مسئولیت ایماني رباني است که نه تنها ملت مسلمان وقوتهاي جهادي را ازاعمال خویش مطمئن کنند بلکه به اطمینان پاکستان که مدت طولاني بـا مجاهدین ومهاجرین افغان همکاري داشته وقرباني هاي داده نیز بپردازد .

رباني باید بداند کـه دوستي هندمصنوعي بوده وهمیشه منافع خویش رادرنظرمیگیرد فلهذا نه باید رباني نسبت به پاکستان هند را ترجیح دهد.

رباني میتواند درزمینه ازینگله دیش بپرسدکه تائید هند برایشان چه ارمغان اوردو دربرابر حمایت خود ازکشورینگله دیش چه بهائي را اخذ نمود .

ملت بدلون

کې ، په دې کې به هیڅ بالنصافه شك ونکړې چې که په سروبي کې حزب نه واي پروت اوس به دمسعود ټانکونه په تورخم کې ولاړو اوپه دې صورت کې به چې افغانستان اومنطقې ته کوم حالت پیښیده دهغه اټکل هیڅاته هم ګران نه دي .

وروره حکمتیار « زیاته کړه : « دبین المللي اوضاع مطالعه په ټیره دروسانوبیا سراپورته کولو مسئله ښئي چې نړې بوځل بیا په دوو بلاکونو باندې دویش په حال کې ده ، داسې معلومیږي چې مسکو، پیکنګ ،دهلي اوتهران دیوه نوي بلاك په جوړولو کارکوي چې طبعاً ورسره بوشمیر نورهیوادونه هم یوځای کیږي اوداپه زموږهیواد په سرنوشت اواوضاع حتماً اغیزکوي، په همدې وجـه پکارده چې هرخومره ژرممکن وي خپل بحران حل کړو.»

مبلغ یکصدوپنجاه ملیون

شدواشناد مبلغ یکصدوپانزده ملیون بنام امداد بامردم ومبلغ بیست ملیون بنام ترمیم ریاست ترتیب وبه خرج معتمد مجرائي داده شد.

بگفته مولوی حسن

قبلي تامدت نامعلومي اظهارداشت که این اقدام طالبان صرف جنبه بشردوستانه داشته ودلالت به ضعف قوت نظامي طالبان ندارد تاباالستفاده ازاین تمدید افراد ملکي وکارمندان سازمان هاومؤسسات بین المللي ودیپلوماتان ازشهرخارج شوند .

په بغلان ولایت کی

منبع وویل پدې غونډه کې چې په "همدره " او غبور سربیره رئیس قاسم خان ، قوماندان عبدالمجید خان ، حاجي محمد نواب، حاجي ملك ، قاضي الف خان ، قاضي عبدالحق ،قاضي عبدالمتین او استاذخرم دل "مایار" برخه اخیستې وه په هیواد کې یې دورووستیو پیښو په باب له خبرو وروسته لازم تصمیمونه ونیول او دیو سوچه اسلامي حکومت تر جوړیدو پورې یې په خپله حقه مبارزه ټینګاروکړ.

بقیه سرمقاله

سد مؤثر ومعقول رابوجود مي آورد .

بهرحال، اکنون که نبودن زمینه هاي مالي وتخصصي امکانات تدوین برنامه هاي بزرگ ورسمي وگروهي رابراي مقابله باتهاجم فرهنگي غرب ازماگرفته است ، باید ازمبارزه خصوصي وخانوادگي دربرابر این تهاجم منفي غفلت نه نمائیم .

معارف ودرس اسلامي راجززندگي خانواده هاي خود بسازیم وبراي اداي فرایض وواجب، دیني درخانواده ها جدي عمل نمائیم .

اخبارجالب

شـــرط بـــنـدی

شایدهیچ باورنکنید که پولیس آلمان اخیراً سه جواني را دستگیر نموده که آنهامعتادومتهم به نوشیدن خون پشك مي باشند .

روزنامهٔ جنگ به نقل از انترنیشنل مگزین مي نویسد، این جوانان که البته درحلقه یکعده جوانان بیکار و روزگم دیگر همدم وهم صحبت بودند، ابتدا بالاي هرکارشرط بندي میکردند. تااینکه یکروز قرارگذاشته ومبلغ بسیار قابل توجهي راشرط نمودندکه هرکس خون یك پشك را نوش جان فرماید صاحب این جایزه میشود ومدال افتخار ا رابسینه مي آویزد .

سه جوان مذکورکه بین۱۷ الي ۳۲ سال عمردارند واسامي شان « پیرمل، جینفروسامي » ذکرشده به این کارعجیب وپلید دارطلبانه اقدام نمودند. واي حرف جالب اینست که پس ازارتکاب عمل ، بخون این حیوان معتاد شدند وپشك هاي تازدانهٔ دروهمسایه هارا دزدیدند، ونام نامي خودرا بگوش پولیس رساندند .

اگرانسان ازمقام خود پائین بیاید ودرچال جاهلیت بیفتد ازامکان بعید نیست که هرناکرده اي را انجام بدهد ودرعمق بدبهاوبیهودگي هاسقوط نماید .

* * *

فـــالبـــین

یك خبرجالب دیگر را براي تان ازاطلاعات ۱۳ سنبله نقل میکنم . یك فال بین امریکایي ویا مرشد قلابي که خیلي مشهورشده بود، اخیراً بدام افتاد .

این آدم مثلیکه درمحیط مانیز رایج است، بسیاري زنها ، دخترهاو جوانها وشاید پیرهارا نیز فریب میداد وادعامیکردکه دارو هاي اورا « جنات » مي آورند ودرتعین بخت وطالع ازذرایع غیبي به او گرامي میشود .

درگزارش آمده که این فال بین که لقب « پدرآنتونیو » رابخود گرفته بود ازهرمراجعه کننده (۱۵۰) دالر میگرفت مردم براي دیداراونام نویسي ونوبت گیري میکرد .

این فال بین که ظاهراً قبانه یك کشیش رابخود گرفته بود ۵۳ سال داشت تااینکه درین نزدیکي ها منابع پولیس «الاي اومظنون شد و یك کمره تلویزیوني مخصوص ومخفي دراتاق اونصب نمود این کمره درساعات فراغت تمام کارهاي فال بین راعکسبرداري کردو نشان داد که فال بین دواهاي عجیب خودرا ازعلف هاي ویگ هاي درختان عادي درست میکند .

* * *

وصـیـت نـامـه

یك دوستي که لازم ندانسته اند ازایشان دراینجا اسم ببریم ، لطفي نموده ومطلبي رابه ارتباط وصیت نامه هاي عجیب براي ستون جالب ارسال کرده اند .

درین مطلب آمده است که طویل ترین وصیت نامه متعلق شعبده بازمعروف «منبزیریم» است که ۳۵ صفحه نگاشته شده ودرآن وصیت نامه به شاگردان نصیحت ورهنموني شده وتمام اموال حتي فیل ، شادي وخرس رابین آنهاقسمت کرده است .

دریك وصیت نامه دیگرمردثروت مندي که بازنش میانه خوبي نداشت میراث خودرا ترکه کرد، بخانم خود فقط یك وشلنگ » حق داد ونوشت و خانم این پول را کرایه سرویس بدهد ونزدیك ساحل رفته ، خودکشي نماید !»

ویك وصیت نامه عجیب مربوط بیك امریکایي میشود . نامبرده سگ هاي خودرا درزندگي خیلي دوست داشت ووصیت نموده بود که بعدازمرگ جسد اورا پارچه پارچه نموده وبه سگ هابدهند. همچنان صدهزاردالر راتنهابراي معالجهٔ سگ هاي خود اختصاص داده بود .

ووصیت نامه خودرا نیزدرهمین درشتي تحریرمینماید .

تقدیم از: فریدون افراسیابي

دخواږه ترخه پاتی برخه

عرضه کوي، بیاله اسلام آباد ،پنډي ، لاهور اوپېښورته خلك کارخانوته ورځي اوپه لاهور کې جوړشوي مال دخارجي مال په نوم په خوځنده قیمت اخلي !! نه خبره ده ، محلي صنعت ترقي کوي، ددوکاندارجیب ته هم څه ورځي اودعصري اومترقي جناباتو خارج پرسته ذهنیت هم تسکین شي.

دعصریت اوترقي یوه تقاضا داهم ده چې په خبرو کې به دې دیونیم انګریزي تکي مرچ ومساله هم ورګډوي اوکه یوقدم نورهم وړاندې تللي نواوړي اوولي به هم ورسره غورځوي، روغه جوړه اوسمه دمه خوله به هم کږه کړه کوي چې خلك به دې پوه شي چې یاخودې پخپله دامریکازیارت کړي اویادلته دې دکوم امریکائي یاانګریزیوتان پاك کړي دي او تلفظ «طبق اصل » کولی شي.

اوپېښور ته دنوروراغلو میلمنو په اجازه به دعصریت پالنې اومترقي توب درسوائي اوبې حیائي داڅرك هم تاسې ته وښیم چې یوچاراته کیسه کوله : دپېښور دصدرګرین هوټل ته دمحفل عروسي په مناسبت غوښتل شوي وم (کاشکې نه مې هم بیولي واي)، محفل شروع و، دسازندګانو درز اودروز غوږونه کڼول، نربنځې سره ګډ ګډیدل، دحجاب او پردې سوال له هیچاسره نه و، تقریباً ټولې ښځې په غربي لباسونوکې راغلي وي، هغسې لباسونه چې بدنونه لږ پټوي اوډیرئې ښکاره کوي، دتعجب دوخت دکابل دامنیت معاون برید جنرال طاهر هم له خپلې میرمنې سره نقل محفل و. اوچې مراسم پاي ته ورسیدل نوموليدل چې یوي عصري میرمنې له دستګول نه پرتوګ راوویست اوخپلې بربنډې پنډۍ یې پکې پټې کړلې، چاورته وویل چې ولې دې مخکې نه و اغوستې؟ په عاجزي اوانکسار ئې وویل :چه کنیم ، مجبوریت است ها!!

هوا داهم دعصریت پالنې یومجبوریت دی!!

خبرتیا

په اسلام آباد کی دحزب اسلامی دسیاسی نمایندگی آدرس تبدیل شوی .

نوی آدرس یې په دې ډول دی :

کور House:885

کوڅه : St:79

سکتور: I:8,3

تلیفون: Tel:445615-445449